UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

## د ملګرو ملتونو استازی د کندهار څخه ليدنه وکړه تر څو د ټول ټاکنو څخه ملاتړ څرګند کړی

د ملګرو ملتونو د عمومی منشی ځانګړی استازی، ستفان دی ميستورا د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون د دارلانشا د مشر عبدالله احمدزی سره يو ځای نن کندهار ولايت ته ولاړ تر څو د ځايی مشرانو او ټول ټاکنو کارکوونکو سره وګوری او د ملګرو ملتونو ملاتړ د شنبی د ورځی د پارلمانی ټول ټاکنو څخه څرګند کړی.

دی ميستورا وويل: ما د کندهار څخه ليدنه وکړه ترڅو د هغو انديښنو ته غوږ ونيسم چی د ټول ټاکنو په ملاتړ او اداره کی برخه وال دی او سره له دی ما د قومی مشرانو سره چی د خپلو ټولنو مشران دي هم ليدنه وکړه.

" زما د سفر موخه دا وه چی د ملګرو ملتونو ملاتړ د ټول ټاکنو د خپلواکو ادارو او د افغانستان د خلکو څخه په داسی حال کی چی هغوی د رای اچوونی لپاره چمتو کيږي، څرګند کړم."

دی ميستورا د کندهار د والی ښاغلی توريالی ويسا، ښاروال غلام حيدر حميدی او د قومی مشرانو د يوی ډلی سره ليدنه وکړه، په دی ليدنه کی ځانګړی استازی ته د ټول ټاکنو د نهايی چمتوالی په اړه معلومات ورکړ شو. هغه هيله وښودوله چی د کندهار خلک د وږی په ۲۷ نيټه د رای اچوونی لپاره بهر راوزي.

هغه وويل: کندهار د افغانستان يو مهم مرکز دی د هغی خلک د ولس واکی په پياوړتيا کی په هيواد کی يو اساسی نقش لری چی هغه ولوبوي.

بحثونه هغو تدابيرو پر ارزښت باندی هم ولاړ وو چی د ټول ټاکنو د کميسيون له خوا د ټول ټاکنو د بهير د ښه والی لپاره نيول شوي دي.

هغه وويل: د ټول ټاکنو چاروا‌کو د تير کال د تجربی څخه ډير څه زده کړي دي، په ځانګړی ډول د سيستم ښه والی تر څو د درغلي مخه په ډيره کچه ونيول شي. دا ټول ټاکنی به بشپړي نه وي خو زه هيله لرم چی د تير کال په پرتله به دا ښی وي.

په پای کی هغه وويل: که څه هم زه د ښځينه تالاشی کوونکو او د ښځينه کارکوونکو د کم والی په اړه د ټول ټاکنو په ورځ په ښار کی او په ځانګړی ډول د ښار په لمنو کی انديښمن يم. د ښځو ګډون په دی مهمو ټول ټاکنو کی د ډير ارزښت لري.

دی ميستورا د سويلی زون د آيساف د ساحوی قوماندان تورن جنرال نيک کارتر(انګليسی) سره ناسته تر سره کړه او د ټول ټاکنو لپاره د امنيتی چمتوالی په اړه معلومات تر لاسه کړ.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan
Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121
http://unama.unmissions.org

Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.